# نفسياتي ژبپوهنه: پېژندګلو

## Psycho linguistic: An Introduction

Dr. Faqir Muhammad*
Dr. Kiran Saneen**

**Abstracts:**

Psychology is the scientific study of human behavior and knowledge of mental tendencies and consciousness. Through it we can know about the human emotions, feelings, perceptions and experiences. And linguistics is related to scientific study of language. Psychology and linguistics has a deep connection with each other because the mind is not participating in absence of language, and language cannot function without the mind. Therefore, the scientific study, research, analysis and experiences of both is called psycholinguistics.

Psychology and linguistics are different branches but interrelated each other through the study of mind and language relationship. These two different branches are very important and play basic rule in psycholinguistics, because it has very important in language learning, thoughts and memories are part of it, but its expressions is the work of language. The choice of words falls in to the category of psychological linguistic, therefore, it's important in language and society very high.

**Keywords:** psychology, linguistics, psycho linguistic, Mind and language learning.

نفسياتي ژبپوهنه د نفسيات او ژبپوهنې دواړه څانګې د خپلې څارنې لاندې راولي او د ذهن او ژبې ګډه مطالعه ده. د ژبې او ذهن تر منځه د تعلق، تړون او رابطې پېوستون دے. د ژبې او د مازغو د اړيکو او رابطې څرګندول او روښانتيا د نفسياتي ژبپوهنې په دائره کښې شامل دي. د ژبې او ذهن باره کښې معلومات، تشريح، توضيح او څرګندونه کوي او د ژبې د زده کړې په سلسله کښې د نفسياتي ژبپوهنې اهميت ډېر زيات دے. ځکه چې د دې په وجه د ژبې د زده کړې (Language Learning) د انساني روّيو (Behavior) او د دې د

* Lecture Pakhtunkhwa Study Centre, Bacha Khan University Charsada
** Assistant Professor, Pakhtunkhwa Study Centre, Bacha Khan University Charsada

اظهار اندازه هم ښکاره کوي. دا مونږ ته ښودلے شي چې ژبه څنګه زده کيږي. لفظونه چرته ذخيره کيږي، په اوريدلو کښې د نقص په اړه معلومات او علم راکوي. د ژبې زده کړه د لفظ او معنې څرګندونه د دې علم په دائره کښې راځي. د ژبې زده کړه کښې د ټولنې نه اثر اخستل لازمي وي ځکه چې ژبه د ټولنې پيداوار وي او هم په ټولنه کښې زده کيږي. په دې زده کړه کښې د ذهن او مازغو بنيادي کردار وي نو وئيلے شو چې ژبه او ذهن دواړه د نفسياتي ژبپوهنې بنيادي غړي دي. دواړه د ژبې زده کړه کښې ډېر اهميت لري. دغه زده کړه د ژبې او فکر د تړون په وجه کيږي.

نفسيات په بنيادي توګه د انسان ذهن Mind او رويّه (Behavior) مطالعه کوي. د انسان د شعوري، تحت الشعور او لا شعوري حالتونو انځور روښانه کوي. په دې کښې جذبات، ادارک، شخصيت او د شخصيت د ټولنې سره اړيکې په نظر کښې ساتلے شي ځکه چې دا د ذهني مطالعې نوم دے. د فکر، ذهن او مازغو علم، پوهه، تجربه، تجزيه او سائنسي مطالعه ده. د دې په مقابله کښې ژبپوهنه د ژبې سائنسي مطالعه ده نو د دې دواړو مخصوصه مطالعه او علمي پوهه نفسياتي ژبپوهنه ده. د ژبې او ذهن د اړيکو په سائنسي انداز څېړنه او پوهه ده.

په ژبه د پوهېدلو او د دې د استعمال په اړه ذهني عملونه او د کار طريقې نفسياتي مطالعې سره تعلق لري نو دا خبره ترې ښکاره کيږي چې د ژبې او د مازغو تړون او نمائندګي نفسياتي ژبپوهنه ده، د ژبې او وينا د ذهني اړخونو پېژندګلو کوي. د ګيان چند مطابق نفسياتي لسانيات د نفسيات او لسانيات تر منځه علم دے. د ژبې د عمل دوه حصې وي يوه نفسياتي او بله ميکانيکي وي. ښکاره خبره ده چې نفسياتي ژبپوهنه کښې د ژبې په نفسياتي اړخ بحث او غور کيږي. د ژبې د پاره په مازغو کښې مخصوصه حصه وي چې د اواز اوريدلو ادا کؤلو او ياداشت سره تعلق لري. ۱

ژبه او د ژبې قاعدې او اصول د انسان په مازغو کښې خوندي وي. په ذهن کښې هغه ټول خيالونه، فکرونه او ياداشتونه موجود وي، خو چې د تکلم يا وينا په شکل کښې څرګند شي نو ژبه ګڼلې شي. دغې لفظونو له ترتيب ورکول او په مناسبه طريقه استعمالول د نفسياتي ژبپوهنې کار دے کوم چې د ژبې او فکر تړون مخې ته راوړي. هم دغه فکر کوم چې ژبې ته دوام بخښي. د نفسياتي ژبپوهنې نمائنده اړخ دے. نفسيات په خپله دائره کښې

لاشعور، تخت الشعور او شعور رانغاړي او دغه ټول څیزونه فکر، مازغو او اعصابي رابطو په وسیله یو سلسله جوړوي او د دغې سلسلې کړۍ د نفسیاتي ژبپوهنې په شکل کښې مخې ته راځي. فکر، مازغهٔ او نفسیات په دې وسیعو معنو کښې د یو کردار مختلف نومونه شي چې د ژبې سره کلک تړون لري.

"پوهیږو چې ژبه او تفکر یو تر بله دومره نزدې اړیکې لري چې د ځینو پوهانو د نظریاتو له مخې ژبې ته تفکر او تفکر ته ژبه وئیل شوې ده. همدا راز پوهانو دغې خبرې ته پوره پام اړولے دے چې ژبه بې تفکره او تفکر پرته له ژبې وجود نهٔ لري." ۲

په مازغو کښې د ژبې ځان له برخه یا خانه ده چې د یوې حصې نوم ئې ورنیکه (Wernicke's area) دے. دا برخه د جرمني ډاکټر کارل ورنیکي (Carl Wernicke) په ۱۹۷۰ء کښې نوموليې ده. د مازغو دا حصه په وینا د پوهېدلو دنده تر سره کوي او اورېدلو سره کار لري. ۳

مازغو کښې د ژبې په اړه بله حصه بروکا (Broca) نامه لري. دا حصه د دې د معلومونکي ډاکټر پال بروکا (Paul broka) په نامه شهرت لري. دا حصه د مازغو ګس اړخ ته وي او د اواز پیدا کولو، تکلم یا وینا سره تعلق لري. ۴

د انسان د وجود د هرې برخې او کار تر سره کولو د پاره مازغو کښې خاص برخه وي. دغسې د ژبې د پاره هم برخه شته چې درې حصې بروکا، ورنیکه او شکنج زاویه نومونه لري. ۵

جارج یُول (George Yule) خپل کتاب کښې څلور برخې (Broca,s area)، (Wernicke's area)، (Motor cortex) او (Fasciculus) یادې کړې دي.

کهٔ مونږ غور وکړو نو د ژبې دا ذکر مونږ عصبي ژبپوهنې (Neurological linguistic) اړخ ته بوځي. خو د نفسیاتي ژبپوهنې دائره دومره وسیعه ده چې حدونه ئې ټاکل ګران کار دے. ځکه چې د ژبې تعلق د نفساتو سره سره اعصابو او مازغو سره هم دے او په څهٔ نه څهٔ حوالو یو بل سره ګډیږي.

"داسې قسم مطالعه ډېر شے عنوانات ځان سره رانغاړي او چې په حقیقت کښې دا د کومو عنواناتو احاطه کوي او د دې نه راضي کېدو په وجه دا ده چې

نفساتي ژبپوهنه په اصل کښې ډېره وسيعه او فراخه مطالعه ده چې کله کله ورته د ابلاغو نفسيات هم وئيلے شي. چې ژبې سره سره په انسانانو کښې د ابلاغو نورې ذريعې لکه اشارې او د مخ تاثرات هم څېړلے کيږي."۲

کۀ عصبي ژبپوهنه او نفسياتي ژبپوهنه هر څو بېلې بېلې څانګې دي خو يو بل سره د نزدې اړيکو په وجه نزديکت هم لري او ځنې ژبپوهان خو ئې يو ګڼي.نفسيات د ذهن، فکر او شعور په لاره د معنوي تعبيرات، توضيح، رجحانات او ميلان هم په نظر کښې لري. په د غه سلسله کښې ئې نفسياتي ژبپوهنې سره کلک تړون څرګنديږي. د فکر او ژبې يو بل سره کلکه رشته ده بې له فکر خبرې د شعور عکاسي نۀ کوي.

"ژبه د انسان د ذهن دروازه ده، د ژبې استعمال او زده کړه، د خبرو کولو په وخت کښې د کلماتو انتخاب، د کلماتو يو بل په څنګ کښې ايښودل دا ټول د ذهن کار دے، ذهن دانسان د تفکر او تعقل مرکز دے. او ژبه ئې د بيان وسيله ده نو د دغو دوو يو بل سره تړاو سل سلنه حتمي او مهم دے."۷

د ذهن او فکر پختګۍ سره د ژبې په زده کړه کښې زياتوالې راځي. د ژبې د زده کړې عمل د يو ماشوم په ژوند کښې له ابتداء نه شروع کيږي. خو د وئيلو توان نۀ لري. څومره چې ئې عمر زياتيږي. پرمختګ کوي نفسياتي ژبپوهنه دغه دوران کښې مونږ ته ښکاره کوي چې ژبه څنګه زده کيږي. خبرې څنګه کولے شی. او څنګه پرې پوهېږو. او دغسې د فکر او ذهني بلوغت سره د ژبې په ذخيره کښې اضافه کيږي.

"By age of six, the average child has learned to use and understand about 13000 words; by eighteen it will have working vocabulary of 60000 words. The means it has been learning an average of ten new words a day since its first birthday. The equilant of a new word every 90 minutes of it working life."۸

ژباړه: د شپږو کالو تر عمره هر ماشوم ديارلس زره لفظونه وئيلے شي او پرې پوهېدلے شی. او تر اتلس کلونو ئې د ژبې لفظونو په ذخيره تر شپيتو زرو لفظونو اضافه کيږي. د دې مطلب دا شو چې د پېدائش د ورځې نه د ده د زده کړې اوسط هره ورځ لس لفظونه دي. چې دا يو لفظ په نوي منټه حسابيږي.

د عمر سره د ذهن فکري بلوغت صرف د لفظونو د ذخيرې زياتوالے نه پېدا کوي. د دې نه علاوه پوهه، شعور او بصيرت هم زېږوي. صرف په ژبه نۀ پوهېږي بلکې د وينا او تکلم په

انداز هم پوهه حاصلیږي. د کرکې، غصې، مینې، حکم یا درخواست په انداز هم عبور حاصل شي.

"اروائیزه ژبپوهنه د ژبې تولید او پوهاوې ذهني پروسه څېړي یا دا چې انسان څنګه او په څهٔ ډول ژبه زده کوي. د وېنا درک کښې د حافظې، تصور او د ژبې په استعمال کښې نورې د خپلې پروسې د اروائیزه ژبپوهنې د زده کړې ساحې دي. په نورو ټکو اروائیزه ژبپوهنه ټول هغه ټولنیز او اروایي فکتورونه او عوامل چې ژبه ځنې اغېرمنېږي تر بحث لاندې نیسي . په بل عبارت اروائیزه ژبپوهنه د ژبې او دماغو تر منځ تړاو څخه بحث کوي."۹

نفسیاتي ژبپوهنه د لفظونو، د ژبې د اصولو او قاعدو په بنیاد د ضرورت او موقعې مطابق د لغتونو او جملو جوړولو، د ژبې په سمه توګه استعمالولو مطالعه کوي. او دا چې د ماشومانو د ژبې د زده کړې څېړنه هم کوي. ۱۰

ژبه د ټولنې اهم او بنیادي عنصر دے. فکر، تصور او عقل د انسان د شعور احساس نوم دے. په دې حواله هم ژبه او نفسیات خپلو کښې رشته او تړون لري. نفسیاتي ژبپوهنه د انسان د ژبې د زده ټولې مرحلې او حالات نظر کښې لري. د مورنۍ ژبې نه علاوه د نورو ژبو زده کړه، د عمر اثرات او خصوصاً د ماشومانو د ژبې د زده کړې مرحلې د عمر په مختلفو وختونو کښې څیړي. لکه دا چې یو ماشوم هغه ژبه په اسانه زده زده کوي چې د هغهٔ چاپیرچل کښې وئیلے شي او هغه دویمه ژبه هم په اسانۍ زده کولے شي چې د دهٔ د اولنۍ یا مورنۍ ژبې د خاندان سره ئې تعلق وي. کهٔ چرې دوېمه ژبه د بلې ژبې کورنۍ سره ئې تعلق وي نو بیا ئې زده د دې مقابله کښې مشکله وي. او ډېره خواري غواړي. په کم عمرۍ کښې چې کومه ژبه زده شي هغه په ذهن کښې تر ډېرې مودې دوام لري او زیات عمر کښې زده کړې شوې ژبه زر هېرېدلے هم شي.

په نفسیاتي ژبپوهنه کښې د ژبې د زده کړې مرحلې په نظر کښې ساتلې شي لکه د ماشوم د ودې او د ژبې د زده کړې څلور مرحلې عموماً داسې یادېږي. (۱) لکه تر دوه کلونو (۲) دوو نه تر شپږ کلونو (۳) بیا تر یوولسو کلونو (۴) تر پنځلسو کلونو یا تر بلوغت. په اولنۍ مرحله کښې ماشوم د یو شي احساس لرلے شي. او داسې هم ممکن ده چې یو شے اوپیژني. یا نوم ئې زده کړي. کله کله هم دغه یو نوم نورو څیزونو ته هم اخلي. زما ذاتي مطالعه کښې

راغلے ده چې ماشوم د غوا نوم زده کړے نو کۀ مېښه، اس يا دغه شان بل څناور ووينې نو وائي غوا ده. دغسې هرې سورلۍ ته ګاډې وغيره. په دويمه مرحله کښې ماشوم په وېنا شروع کوي خو د ترتيب او قاعدو پروا نۀ کوي. هر څيز د ځان ګڼي. او حاصلول ئې غواړي. ژبه د چاپېرچل نه زده کوي. بې فکره او بې پروا ئې وائي. په دريمه مرحله کښې ماشوم د ژبې په استعمال، د دې په پوهېدلو او خپل خيال بل ته د رسولو قابليت لري. د جواب ورکولو جوګه شي او ژبه کښې ئې د لفظونو په ذخيره کښې اضافه کيږي. خپله مرضي وړاندې کولے شي. څلورمه مرحله کښې ماشوم خپل خيال، فکر، احساسات، تصورات او جذبات په سمه توګه منظم انداز او د موقعې مناسب ادا کوي. دغه د ذهني او جسماني بلوغت دور وي.

د ژبې د زده کړې په اړه نفسياتي ژبپوهنه صرف د ماشومانو زده کړه په نظر کښې نۀ ساتي. په دې کښې انساني ژبه نظر کښې ساتلے شي. د هر عمر افراد پکښې شامل وي. د نارينه او زنانه د زده کړې او تکلم انداز هم په غور کتلے شي.

"زبان کے مطالعے میں بولنے والوں کو نفسیات بہت اہمیت رکھتی ہے، بڑوں کے مقابلے میں بچوں کے لسانی رویے الگ ہوتے ہیں- مردوں اور عورتوں کے نفسیات میں فرق کے باعث دونوں کے لسانی رویے مختلف ہوتے ہیں- اس کے علاوہ کسی شخص کو نئی زبان سکھاتے وقت جو مسائل ہمارے سامنے آتے ہیں وہ اس کی نفسیاتی مسائل کا نتیجہ ہونگے- اس طرح نفسیات کے تعلق سے زبان کا مطالعہ نفسیاتی لسانیات کا موضوع بن جاتا ہے-" ۱۱

د ژبې زده کړه تولنيز عمل دےاو د ټولنې سره د انساني ژوند ضرورتونه تړلي دي. د انسان چې کوم څيز ته اړتيا وي، هغې ته پاملرنه کوي. دغه قسمه ټولنيز ضرورتونه د ژبې د زده کړې يا په ژبه کښې د بدلون سبب ګرځي. لکه يو ماشوم چې د ضرورت دپاره بيا بيا کوم عمل سره مخامخ کيږي ورسره د دغه څيز د نوم ګردانيږي. نو دغه نوم زر زده کيږي. د مثال په طور يو ماشوم له مور پۍ ورکوي او ورته وائي دودهو. دغسې بيا بيا کيږي نو بيا چې ماشوم اوري شي نو د دودهو لفظ وئيلو سره غوښتنه کوي. څومره چې يو ماشوم ته د يو څيز نوم زيات واخستې شي هغه زر زده کوي.

خليل صديقي په دې اړه ليکي:

"اگر کبوتر کے سامنے دانہ ڈالتے رہیں تو ٹھونگیں مارنے کی برجستہ کردار ظاہر ہوگا- پھر کبوتر ٹھونگیں مار مار کر بھوک کا اظہار کرنے لگتا ہے- یہ فعل جوابی فعل ہے- جو "آموزش" کا مرھون منت ہے- بچے کی لسانی کردار کی بھی کم و بیش یہی کیفیت

ہے— ہاں یہ ضرور ہے کہ اس صورت میں ''تقویت'' کی حیثیت سماجی ہوتی ہے۔اس طرح بچہ بھوک کے اظہار کے لئے تتلا تتلا کر ٹوٹا پھوٹا لفظ کہنے لگ جاتا ہے۔اور جب اس کے نتیجے میں دودھ مل جاتا ہے تو اس لفظ کے معنے بھی اس کے ذہن میں واضح ہوتے جاتے ہیں. اور اسم اور مسمّیٰ کا تلازمہ ذہن نشین ہو جاتا ہے۔رفتہ رفتہ وہ صحیح لفظ بھی سیکھ جاتا ہے۔"

د نفسیاتي ژبپوهنې په موضوعاتو کښې اهم دا وي چې د ژبې زده کړه ( Language learning) څنګه کیږي او دا چې د وینا نقص (speech disorder) څنګه پیدا کیږي او د دې دحل د پاره څۀ کومې طریقې خپلولے شي. د ذهن او مازغو سره د ژبې تعلق څومره دے او بیا د ژبې ا و وینا اظهار څنګه کیږي. د دې تولو خبرو دپاره د پوهې یا فهم طاقت (perception) څومره اهمیت لري. ځکه چې دغه طاقت د وینا ، د خپل خیال، مقصد او مفهوم بل ته رسولو د پاره د دغه پوهې ډېر ارزښت دے. د دې نه بغېر په سمه طریقه د ابلاغ ترسیل نۀ کیږي. په ژبه د پوهېدلو او په مفهوم رسېدلو د پاره د ژبې په رویو (Linguistic behavior) د پوهېدلو او د لساني نفسیاتو پس منظر ته ځان رسول ضروري وي، ځکه چې د ژبنۍ رویّو نه د ژبني اظهار (Linguistic expression) اندازه کیږي. په دې کښې د انسان مختلف کیفیات، احساسات او جذبات پټ وي. په یوه موقعه چپ پاتې کېدل، یوې خبرې له زور ورکول، د خبرې سره د اندامونو حرکتونه، د مخ تاثر د مینې محبت، د کرکې، ویرې، غصې، د خوشحالۍ او ناراضګۍ اندازه هم د دغې اندامونو د کیفیتونو نه کیږي او د دې ادراک نفسیاتي ژبپوهنه کولې شي.

د خبرو دوران کښې چې کوم کوم انداز قبلولے شي دا د وخت سره سره زده کیږي. د پنځو میاشتو ماشوم د غصې اظهار او د ویرې کیفیت نۀ شي ظاهرولے یا دغه قسمه اثر نۀ اخلي. د کال ماشوم د غصې او مرورتیا اظهار کولے شي. تر دغه وخته د غږونو سم استعمال نۀ شي کولے او څۀ مخصوص اوازونه لکه بابا غوندې اوازونو تکرارکولو مثالونه ترې ښکاره کېدلے شي. د کال نه پس یو لفظي one word استعمال باندې قدرت مومي چې دغه دوره یو لفظي one word stage بللے شي. په دې دوره کښې ماشوم ډېر کم څیزونه پېژني او دغه پېژندلي څو څیزونه په نورو ډېرو څیزونو قیاس کوي.

د یو نیم کال د عمر نه پس د دوه لفظونو دور (two word stage) شروع کیږي. لکه ماله دودهو، مم آکا او داسې نور. دغسې د وخت تېرېدو سره تر دولسو کلونو او بیا تر بلوغت په ژبه او دژبې په سم استعمال عبور لري. د مختلفو کیفیتونو په اظهار او قابو لرلو لاس بر

شی. لکه دا ادراک لري چې کوم وخت غصه کول مناسب دي او کوم وخت پرې قابو ساتل پکار دي. دغسې د هر قسمه اظهار مناسبه موقعه پېژندلے شي او دغه ټول د نفسياتي ژبپوهنې سره تعلق لري.

نفسيات د انساني رويّو، د دې د ذهني، فکري رجحان او شعوري حالتونو د پوهې سائنسي مطالعه ده او د انساني جذباتو احساساتو، ادراکاتو، پوهې او تجربو عکاسي کوي. نو ژبپوهنه دژبې د سائنسي مطالعې سره تعلق لري او دواړو ته کهٔ نظر وکړو نو د ژبې او ذهن يو بل سره کلک تړون مخې ته راځي ځکه چې ژبه د ذهن او ذهن د ژبې بغېر کار نهٔ شي کولے. ځکه دا دواړه سائنسي پوهه، څېړنه، تجزيه او تجربه نفسياتي ژبپوهنه زيږوي. د نفسياتو او زبپوهنې جدا جدا څانګې، نفسياتي ژبپوهنه په يو وجود کښې رانغاړي. د ژبې او ذهن شريکه مطالعه، د دوي تر مېنځه اشتراک او تړون په ګوته کوي او بيا دژبې په زده کړه کښې د نفسياتي ژبپوهنې کردار په دې هم دې چې دا مونږ ته د ژبې د زده کړې سره د ژبې او مازغو، د ذهن او فکر سره د ژبې تعلق او کردار څرګندونه هم کوي. دغه دواړه څانګې د نفسياتي ژبپوهنې اهمې او اساسي برخې دي چې د ژبې په زده کړه کښې لاس لري. د ژبې د زده کړې قاعدې د انساني ذهن سره تړون لري. دې سره سره خيالونه، فکرونه او ياداشت هم د دې حصه وي. خو بيا د دې څيزونو اظهار د ژبې کار دے. دې د پاره د لفظونو چوڼ د نفسياتي ژبپوهنې په دائره کښې راځي. دغه وجه ده چې د نفسياتي ژبپوهنې په انساني ټولنه کښې ډېر اهم او بنيادي کردار دے.

**حوالې:**


1. گیان چند، پروفیسر، عام لسانیات، لاهور، بک ٹاک، 2018ء، ص 17-616
2. میرا جان، غوربندي، پوهنوال، د ژبپوهنې مبادي، دریم چاپ، کابل، جهان دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹، مخ ۱۳۲
3. George Yule, the study of language, 4th edition UK, Cambridge University press, 2010, p 159
4. As above, P 1558
5. محمود مرهون، اواز پوهنه، کابل، کابل پوهتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځې، ۱۳۹۸ ل، مخ ۴۳
6. بشره اکرام، ډاکټر، ژبپوهنه، پېښور، پښتو اکیډمی، پېښور یونیورسټي، مخ ۳۵۸
7. محمود مرهون، تاریخي ژبپوهنه، کابل، جهان دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ ل، مخ ۱۴۸
8. Dimbar, r, Groming, Gossip and the evolution of language UK, Cambridge, Harward university press, 1996, p.3
9. ثولیزے، محمد عثمان، پوهنیار، عمومي ژبپوهنه، کابل، جهان دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ ل، مخ ۲۱۴
10. Griffths, carol, lesson from good language learners, uk, Cambridge university press, 2008, p 3
11. رابعہ سرفراز، ڈاکٹر، پروفیسر، لسانیات، تعارف اور اہمیت، مشمولہ، اردو ریسرچ جرنل، اکتوبر، دسمبر، ۲۰۱۸ء، ص ۶۶
12. خلیل صدیقی، پروفیسر، زبان کا مطالعہ، کوئٹہ قلات پریس ۲۰۰۱ء، ص ۲۰۶

**Refrences**


1. Gianchand, Proff, aam lisaniat, Lahore, Book talk, 2018, P,616-17.
2. Meerajan, Ghorbandi, Pohanwal, da Jabpohane mabade, Kabal, Jahane Danish, Khparandoya Tolana, 1399, P-132.
3. George Yule, the study of language, 4th edition UK, Cambridge University press, 2010, p 159
4. As above, P 1558
5. Mahmood Marhoon, Awaz Pohana, Kabal Pohantoon da jabo aw adabyato pohanzai, 1398,P,43.
6. Bushra Ikram, Dr, Pekhawar, Pukhto Academy Pekhawar University, P,358.
7. Mahmood Marhoon, Tarikhi Jab Pohana, Jahandanish khparandoya tolana, 1399,P,148.
8. Dimbar, r, Groming, Gossip and the evolution of language UK, Cambridge, Harward university press, 1996, p.3
9. Solazai, Muhammad Usman, Pohanyar, Umomi Jab Pohana, Jahandanish khparandoya tolana, 1399,P,214.
10. Griffths, carol, lesson from good language learners, uk, Cambridge university press, 2008, p 3
11. Rabia Sarfaraz, Dr, Proff, Lisanyat Taaruf awar ahmiyat, Mashmoola, Urdu Research Journal, Oct- Dec-2018, P, 66.
12. Khalil Saddiqui, Proff, Zuban ka mutalia, Quitta, Qilat Press, 2001,P 206.